

# ارګ پاڼه

اوونۍ ګڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

صاحب امتیاز:
د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز
د اړیکې شمېره:
+93 (0) 202100633
ایمیل:
info@gmic.gov.af
آدرس:
مرمرینه ماڼۍ، بهرنیو چارو وزارت
ته مخامخ، کابل - افغانستان

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نیټه: جمادي الثاني ۲۰، کال ۱۴۴۳ هجري قمري

**مور د اقتصاد برخې ته پوره متوجه یو، د معادنو په برخه کې مو کار شروع کړی دی، تجارانو او پانګوالو سره مو ناستې کړې دي، هغوی په افغانستان کې پانګونې ته لیواله دي. خو امریکا زمور د اقتصادي پرمختګ مخنیوی کوي، خنډونه جوړوي او هڅه کوي چې اقتصاد مو خراب او په لوی لاس بشري ناورین او بحران رامنځ ته کړي.**

د ا.ا.ا. د ریاست الوزراء مرستیال
محترم ملا عبدالغني برادر اخوند

## پېښو پر وړاندې د مبارزې کمیسیون دویمه ناسته ترسره شوه

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د پېښو پر وړاندې د مبارزې کمېسیون دویمه ناسته ترسره شوه. په دغې ناسته کې د وروستیو اورښتونو له امله د زیانمنو شویو خلکو د ستونزو په حل خبرې وشوې. پاتې برخه ۲

**ما از طریق پیمان دوحه به دنیا نشان دادیم که امارت اسلامی افغانستان قادر است هر معضل پیچیده‌ای را از راه‌های گفتگو و دیپلماتیک حل و فصل کند.**

محترم سهیل شاهین، سفیر و نماینده دائمی امارت اسلامی در سازمان ملل متحد

**مور د اوزبیکستان هېواد لخوا د برېښنا دستونزې د حل په اړه د هغه هېواد له چارواکو څخه مننه کوو. اسلامي امارت د خپلو ګاونډیو هېوادونو سره ښې او پیاوړې اړیکې غواړي، اوزبیکستان زمور د اعتماد وړ ورور او همسایه هېواد دی، زمور تر منځ ټولې ستونزې به د دوستۍ او ښه ګاونډیتوب په چوکاټ کې حل کیږي.**

محترم ذبیح الله مجاهد، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د ا.ا.ا. ویندوی

## فراه، هرات او هلمند ولایتونو ته د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ مولوی هبة الله اخوندزاده سفر

د افغانستان اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین شیخ مولوی هبة الله اخوندزاده د ځانګړي سفرونو په ترڅ کې د فراه، هرات او هلمند ولایتونو د ځایي علماء کرامو، مسئولینو او مجاهدینو سره ولیدل.

عالیقدر امیرالمؤمنین په داسي حال کې چې د یادو ولایتونو والیان، ولسوالان او ګڼ شمېر نور مسئولین هم ورسره وه د علماء کرامو، مسئولینو او مجاهدینو سره ولیدل، او هغوی سره یې پر بېلابېلو موضوعاتو بحث او خبري وکړې او مسئولین یې خپل مسئولیتونو او دندو ته متوجه کړل. د یادو سفرونو په لړ کې عالیقدر امیرالمؤمنین ټولو ته د افغانستان اسلامي امارت د فتحې مبارکي ورکړه او د دوی د ستونزو پر حل ټینګار وکړ. پاتې برخه ٦

## د افغانستان اقتصادي کنفرانس ترسره شو

د افغانستان اقتصادي کنفرانس د اسلامي امارت د مشرتابه او لوړ پوړو چارواکوو، بهرني ډیپلوماتانو، د نړیوالو سازمانونو، مرستندویه ادارو او خصوصي سکتور استازو په ګډون په ارګ کې ترسره شو.

په دې کنفرانس کې، د ۲۰ هېوادونو استازو په حضوري او د ۴۰ هېوادونو استازو په آنلاین بڼه ګډون کړی. یاد کنفرانس د ا.ا.ا. د رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند په وینا پیل شو. پاتې برخه ۲

## دیدار رئیس الوزراء امارت اسلامی افغانستان با عضو خاندان شاهی قطر

محترم ملا محمد حسن اخوند رئیس الوزراء امارت اسلامی افغانستان با شیخ عبدالله بن محمد الثانی عضو خاندان شاهی و یکتن از تاجران قطر، دیدار نمود.

در این دیدار که در ارگ انجام شد و در آن ملا داکتر عبدالواسع رئیس دفتر ریاست الوزراء و محترم خیرالله خیرخواه سرپرست وزارت اطلاعات و فرهنگ نیز حضور داشتند، شیخ عبدالله بن محمد الثانی پاتې برخه ۵

## د اسلامي امارت د کابینې غونډه ترسره شوه

د ا.ا.ا. د کابینې غونډه د رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند په مشرۍ او د ریاسة الوزراء د مرستیالانو او سرپرست وزیرانو په ګډون دائره شوه. د کابینې غونډه د قران کریم د مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه. کابینې د دیني مدارسو د فارغینو د اسنادو د ارزیابي او رتبو د تثبیت په اړه د ټاکل شوي هیئت لخوا چمتو شوې طرحه تصویب کړه. پاتې برخه ٦

## ډېر ژر به د تاپي پروژې اووه تړونونه لاسلیک شي

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت وایي، ډېر ژر به د تاپي پروژې پاتې اووه تړونونه له خپلو شریکانو سره لاسلیک کړي.

د بهرنیو چارو وزارت د ستراتیژیکو مطالعاتو رییس، ولی الله شاهین ټینګار کوي چې ترکمنستان به د تاپي د بودیجې برخه افغانستان ته په پور ورکړي. پاتې برخه ۵

## سازمان ملل: پنج میلیارد دالر برای کمک به نیازمندان در افغانستان نیاز است

در اعلامیه سازمان ملل متحد تاکید شده است که برنامه پاسخ‌دهی بشردوستانه افغانستان به ۴.۴۴ میلیارد دالر نیاز دارد و این بزرگ‌ترین درخواست بشردوستانه است که تا کنون راه‌اندازی شده است.

سازمان ملل متحد و شماری پاتې برخه ۵

## تخصیص ۳۰۸ میلیون دالر کمک بشری اضافی امریکا برای افغانستان

ایالات متحده اعلام کرد که ۳۰۸ میلیون دالر کمک بشری اضافی را برای مردم نیازمند در افغانستان فراهم خواهد کرد.

امیلی هورن، سخنگوی شورای امنیت ملی قصر سفید، با نشر اعلامیه‌ای گفته است که این کمک های جدید ادارهٔ ایالات متحده برای انکشاف بین‌المللی (USAID) از طریق سازمان‌های مستقل بشری پاتې برخه ٦

## مرکز تحقیقاتی بانکداری اسلامی افتتاح شد

مرکز تحقیقاتی بانکداری اسلامی با حضور محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا. و رؤسای اکادمی علوم، اتحادیه بانک ها، رئیس بانک ملی افغان و مسئول بانکداری اسلامی د افغانستان بانک افتتاح گردید.

رئیس اکادمی علوم افغانستان محترم شیخ فریدالدین محمود گفت: با تلاش های این مرکز، به نظام سودی بانک‌ها نقطه پایان گذاشته پاتې برخه ۵

## د اقتصادي کمیسیون غونډه ترسره شوه

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ او د مختلفو وزارتونو د وزیرانو، د افغانستان بانک رئیس او د اړوند ادارو متخصصینو په ګډون د اقتصادي کمیسیون غونډه ترسره شوه.

د غونډې په پیل کې، د ګمارل شویو پلاویو راپورونه واورېدل شول، وروسته د چین پانګه والو سره قراردادونو، د اقتصادي پاتې برخه ۵

## په افغانستان کې د پانګونې ښه فرصتونه برابر شوي

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر په افغانستان کې د MJAM کمپنۍ رئیس او ځانګړي استازي صفت الله رحیمي سره وکتل.

په دې کتنه کې چې په سپېدار ماڼۍ کې وشوه، په افغانستان کې د MJAM کمپنۍ رئیس او ځانګړي استازي په مس عینک پروژه پاتې برخه ۵

## د افغانستان بانک: ۳۲ میلیونه ډالر نغدي مرسته کابل ته را رسېدلې

د افغانستان بانک وایي چې افغانستان ته د بشري مرستو په لړ کې د ۳۲ میلیونه امریکایي ډالرو نغدي مرسته کابل ته را رسېدلې ده.

مرکزي بانک ویلي دي چې دغه نغدي مرسته د دوی تر څارنې لاندې د کابل هوایي ډګر څخه تر د افغانستان نړیوال بانک (AIB) پورې ورسوله.

افغانستان بانک زیاته کړې چې دوی د هر هغه بشردوستانه ګام څخه چې هېواد ته پاتې برخه ۵

**کابینه بودجه سه ماه اخیر سال ۱۴۰۰ هجری شمسی را که ۵۳.۹ میلیارد افغانی است تصویب کرد، که ۴۹.۲ میلیارد آن بودیجه عادی و ۴.۷ میلیارد آن بودجه انکشافی است. منظور از تصویب بودجه سه ماه اخیر، انتقال سال مالی به سال هجری شمسی است.**

## د ریاست الوزراء مرستیال د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنو نړیوال فدراسیون مرستیال سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنو نړیوال فدراسیون IFRC مرستیال هاویر کاستیلانوس سره په ارګ کې وکتل.

په دغه کتنه کې هاویر کاستیلانوس د یاد فدراسیون د بشري فعالیتونو په اړه د معلوماتو ورکولو ترڅنګ د افغاني سرې میاشتې د مسوولینو ستاینه او د بشري خدماتو او مرستو رسولو د لا ښه والي لپاره یې د هغوی د ظرفیتونو د لوړولو ژمنه هم وکړه.

د ا.ا.ا. د ریاست الوزراء مرستیال د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنو نړیوال فدراسیون مرستیال ته د ښه راغلاست پرمهال په افغانستان کې د دوی بشري فعالیتونه او همکارۍ وستایلې او مستحقو کسانو ته د لاښې رسیده ګۍ په موخه یې له اړوندو دولتي ادارو سره د دوی په همغږۍ ټینګار وکړ.

محترم مولوي عبدالسلام حنفي وویل، په دولتي ادارو کې فسادله منځه تللی، دروږدو کسانو دراټولولو، پوښاک، خوړو او درملنې چارې پیل شوي چې په دې او نورو برخو کې د نړیوالو بنسټونو مرستې هم اړینې دي. هغه د سره صلیب او سرې میاشتې ټولنو نړیوال فدراسیون مرستیال ته ډاډ ورکړ چې اسلامي امارت به نړیوالو ته په افغانستان کې د بشري مرستو او پانګونې لپاره ټولې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.#



## د اسلامي امارت له حاکمیت سره په افغانستان کې پانګونې ته لیوالتیا زیاته شوې

د کابل د فتحې او د پخوانۍ اداري له سقوط وروسته، اسلامي امارت د ۱۴۰۰ لمریز کال د زمري په میاشت پر افغانستان حاکم شو او په هېواد کې د نوي نظام له حاکمیت سره په بېلابېلو برخو کې مثبت تحولات او د پام وړ تغییرات رامنځته شول. د نورو مثبتو تغییراتو ترڅنګ، د فساد له منځه وړل، د پانګونې لپاره زمینه برابره ول او په ټول هېواد کې ډاډمن امنیت تأمینول، هغه څه دي چې د افغانانو د رضایت سربېره یې، د سیمې د هېوادونو پام هم ځانته را اړولی دی.

د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه تل د اقتصادي او زیربنایي پروژو پر ژر پلي کېدو ټینګار کړی او په دې وروستیو کې یو له مهمو موضوعاتو څخه چې د اسلامي امارت په لومړیتوبونو کې قرار لري د ټاپي پروژې پیل ده. د هغو کتنو په پایله کې چې د افغانستان-ترکمنستان دپلاوو ترمنځ ترسره شول، په پام کې ده چې د ټاپي پروژې اړوند ۷ تړونونه د دواړو هېوادونو ترمنځ لاسلیک شي چې په دې سره به د دې سترې او حیاتي پروژې تطبیق په عملي بڼه ژر تر ژره پیل شي.

له بده مرغه، د ټاپي پروژه، د ځو لسیزو په ترځ کې د پخواني نظام دشوړیدلو ادارو د ناندریو له امله تطبیق نشوه او په دې موده کې ستر اقتصادي او عایداتي فرصتونه له لاسه لاړل.

همدارنګه، په دې وروستیو کې د روسیې، متحده اماراتو، چین، او قطر هېوادونو لوړ پورو چارواکو او پانګه والو له افغانستان څخه لیدنه وکړه او د هغو کتنو په نتیجه کې چې د اسلامي امارت له مشرتابه پلاوي سره یې ترسره کړل، په لمریزه بربښنا، د سمنټو د فابریکې پر جوړولو، کرنې، کانونو او داسې نورو مهمو پروژو باندې د پانګونې لیوالتیا ښوده. هغوی اوس په دې باوري شوي چې په افغانستان کې امنیت تامین دی او په دې هېواد کې د نورو نظامونو په پرتله، د پانګونې تر ټولو ښه فرصتونه برابر شوي دي.

د نوي نظام په رامنځته کېدو، د اسلامي امارت مشرتابه پلاوي او اړونده مسئولینو تل دا هڅه کړې ترڅو د پانګونې په برخه کې ټول هغه حقوقي او تخنیکي خنډونه له منځه یوسي او پانګوالو ته د اړتیا وړ اسانتیاوې برابرې شي؛ هغه څه چې په څو لسیزو کې پانګوال او د سیمې هېوادونو به ورڅخه سر ټکاوه.

د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه په دې باور دی چې د پانګونې او اقتصادي همکاریو د جذب او همدارنګه د زیربنایي، پراختیایي او اقتصادي پروژو د تطبیق له لارې، بهرنیو مرستو ته اتکاء کمیږي او د افغانستان د پرمختګ او همداراز د ولس د سوکالۍ لپاره به اړین فرصتونه برابر شي.#

پاتې برخه...

## د محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د پېښو پر وړاندې د مبارزې...

د ریاست الوزراء مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه کمیسیون د ټولو ارګانونو کارونه و ارزول او اړوندو مسؤلینو ته یې سپارښتنه وکړه، چې د طبعي پېښو په سبب د خلکو د ستونزو په حل کولو کې دې کوټلي ګامونه واخلي.

پر دې سربېره یې ټینګار وکړ، چې د ولس خدمت او د هغوی د مشکلاتو حل کول زموږ لومړیتوب دی.#

**خلک داسې ملکونه ابادوي چې نه یې ځمکه زراعتي وي او نه یې ځوانان با استعداده وي. خو الحمد لله زمونږ د وطن هم ځمکه سره زر دي او هم مو ځوانان خواریکښ دي. مونږ به ولې ښکته ځو.**

محترم ملا خیرالله خیرخوا، د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزیر

## کابینه د روان کال وروستیو درې میاشتو لپاره ۵۳.۹ میلیارده افغانۍ بودجه تصویب کړه

د مالیې وزارت وایي چې کابینه د ۱۴۰۰ لمریز کال وروستیو دریو میاستو بودیجه تصویب کړې ده.

یاد وزارت زیاته کړې چې د ۱۴۰۰ لمریز کال د وروستیو درې میاشتو بودیجه په ټوله کې ۵۳.۹ میلیارده افغانۍ ده، چې له دې جملې ۴۹.۲ میلیارده افغانۍ عادي بودیجه او ۴.۷ میلیارده افغانۍ پراختیایي بودیجه ټاکل شوې ده.

مالیې وزارت د ۱۴۰۰ کال د وروستۍ ربعې لپاره د بودیجې د تصویب موخه هجري لمریز کال ته د مالي کال اړول ښودلی دي. د یادونې وړ ده چې کابینې په وروستۍ غونډه کې پریکړه وکړه چې د هېواد مالي چاري به هجري لمریز کال له پیل څخه شروع او ملي بودیجه به د همدې کال لپاره د کابینې له لوري تصویبیږي.

د مالیې وزارت ویلي دي چې دوی غواړي، په هیواد کي د چارو د ټکني کېدو د مخنیوي په موخه تصویب شوې بودیجه ژر تر ژره له ټولو دولتي ادارو سره شریکه کړي. د مالیې وزارت همداراز څرګنده کړې چې د ۱۴۰۱ کال د بودیجې د ترتیب چاري په خلاصېدو دي او د را روان کال له پیل سره سم به د کابینې له لوري یو کلنه بودیجه تصویب شي.#

## د افغانستان اقتصادي کنفرانس...

په پیل کې، د ا.ا.ا. رئیس الوزراء یاد کنفرانس د افغانستان لپاره خورا ارزښتناکه وباله او له ټولو ګډونوالو یې وغوښتل ترڅو په هېواد کې د شته اقتصادي ستونزو د اساسي حل لپاره دې خپلې مشورې او نظرونه شریک کړي.

د ا.ا.ا. رئیس الوزراء په خپلو خبرو کې وویل چې د افغانستان اسلامي امارت توانېدلی ترڅو فساد له منځه یوسي او په ټول هېواد کې ډاډمن امنیت ټینګ کړي. هغه وویل، اسلامي امارت ټول هغه شرائط بشپړ کړي، چې د یو نظام د مشروعیت له پاره کافي او مهم دي. هېوادونه باید جرئت وکړي او اسلامي امارت په رسمیت وپېژني او په ټوله کې د افغانانو سره مرستې وکړي. نوموړي له اسلامي هېوادونو وغوښتل ترڅو د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت پېژندلو کې تر نورو مخکې ګام پورته کړي.

محترم ملا محمد حسن اخوند د هېواد روان اقتصادي وضعیت په اړه وویل چې، د افغانستان د پیسو کنګل ساتل د دې لامل شوی ترڅو په هېواد کې اقتصادي وضعیت خراب او هېوادوالو له راز راز ننګونو سره مخ شي. هغه د نړۍ په هېوادونو او مرستندویه سازمانونو غږ وکړ چې، اسلامي امارت سره په ګډه کار وکړي ترڅو دغه اقتصادي بحران ته د پای ټکی کېښودل شي.

نوموړي د بشري مرستو له بهیر خوښي وښوده او زیاته یې کړه چې، لنډ مهالې مرستې ملت ته ګټورې نه دي، موږ باید په ګډه کار وکړو او داسې لارې چارې پیدا کړو ترڅو په هېواد کې اقتصادي ستونزې په بنسټیزه توګه حل شي.

د ا.ا.ا. رئیس الوزراء وویل چې په هېواد کې ډاډمن امنیت تأمین دی او د پانګونې لپاره ډېره ښه زمینه برابره شوې ده.

همدارنګه، د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د دویم ویناوال په توګه خبرې وکړې. نوموړي وویل چې په تېرو دوو لسیزو کې د افغانستان اقتصاد د بهرنیو په مرسته ولاړ وو، دا مرستې له یوې خوا مؤثریت یې نه درلود او له بل پلوه فساد ته یې لاره هواره کړې وه.

د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء مرستیال زیاته کړه چې، د بندیزونو دوام او د افغانستان شتمنۍ کنګل ساتل په هېواد کې اقتصادي ستونزې زیاتې کړي. د هغه په وینا، هر تحول له ځان سره یو فرصت رامنځته کوي او د شته فرصت څخه باید سمه ګټه اخیستنه وشي ترڅو د هېواد اقتصاد پیاوړی شي.

نوموړي ټینګار وکړ چې، اسلامي امارت هغه مرستې نه غواړي چې د افغانستان د اقتصادي نظام استقلالیت په کې نه وي، بلکې غواړي چې په مستقیم ډول په دې مرستو کې دخیل اوسي او عادلانه وېش یې ترسره کړي.

محترم مولوي عبدالسلام حنفي په خپل خبرو کې وویل چې، افغانستان د بشري مرستو ترڅنګ پراختیایي مرستو ته هم اړتیا لري او هڅه روانه ده ترڅو د سیمې هېوادونو او نړیوالې ټولنې سره په همغږۍ اقتصادي او زیربنایي پروژو د تطبیق چارې بېرته پیل کړو.

وروپسې، د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې اغلې دیبرا لاینز، په اقتصادي کنفرانس کې خبرې وکړې وویل، موږ د نړیوالې ټولنې له بېلابېلو بنسټونو سره کار کوو چې پر افغانستان بندیزونه لرې او افغانستان ته د بشري مرستو کچه لوړه شي. اغلې لاینز وویل، ملګري ملتونه د افغانستان د اقتصاد د احیاء کولو او د اقتصادي ستونزو د بنسټیز حل لپاره کار کوي. د هغې په وینا، بشري مرستې اوږدمهاله حل نه شي کېدای. موږ په نړیوال سازمان کې له ډونرانو سره د محدودیتونو د لرې کولو په تړاو خبرې کوو او په هر اړخیز ډول دا غږ پورته کړی چې تر ډیره یې مثبته پایله هم ورکړې ده، موږ ژمن یو چې د مرکزي بانک حمایت وکړو تر څو بانکونه سقوط ونه کړي.

دیبورا لاینز وویل چې، افغانستان جګړو زیانمن کړی او په دې هېواد کې یو میلیون افغانان زیانمن شوي چې باید جدي پاملرنه ورته وشي.

دیبورالاینز زیاته کړه چې، افغانستان یو مثبت انکشاف ته اړتیا لري او ملګري ملتونه نړیوالو ته د انتقالي چهارچوب په نامه یو سند ورکړی، چې له مخې به ۸ بیلیونه ډالر افغانستان ته راشي، تر څو د افغانستان اقتصاد بېرته عادي حالت ته راشي، موږ د افغانستان سره د مرستو په تړاو ډېرې هڅې کړي خو دا کوښښونه لا هم کافي نه دي. نوموړې وویل، موږ نن دلته راغلي یو تر څو د ستونزو په ړینو خبرې وکړو او داسې یو اقدام ته لاره هواره کړو چې تل پاتې وي نه لنډ مهاله.

د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي امیرخان متقي د افغانستان اقتصادي کنفرانس کې د خپلو خبرو پر مهال وویل چې، افغانستان له ټولو هېوادونو سره د متقابل احترام پر بنسټ ښو اړیکو ته ژمن دی او د نړۍ له هېوادونو سره اقتصاد محوره اړیکې غواړي.

هغه زیاته کړه، نوی نظام د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د اړیکو پر جوړولو تمرکز کړی ترڅو نړیوالو ته د افغانستان ریښتینی انځور وړاندې شي. د نوموړي په وینا، دغه لیدنې د افغانستان او نړۍ تر منځ د نویو اړیکو باب پرانیست، د افغانستان په اړه منفي ذهنیت کم کړی او افغانستان به له دې وروسته د نړۍ د تصادم پرځای د نړۍ پر نښلونکي مرکز بدل شي.

د کنفرانس په جریان کې، محترم ملا هدایت الله بدری د ا.ا.ا. د مالیې سرپرست وزیر هم خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې، د اسلامي امارت له حاکمیت سره، مالي سیستم د پخوا په پرتله ډېر فعال شوی، د مالیاتو په راټولولو کې د فساد مخه نیول شوې او په ګمرکونو کې د عوایدو راټولولو بهیر په بشپړ ډول شفاف شوی دی. د نوموړي په وینا، د لومړي ځل لپاره، اسلامي امارت وکولای شو چې د کورنیو عوایدو په کارولو سره بودیجه چمتو کړي.

د کنفرانس په پای کې، د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کنفرانس جمع بندي وکړه. نوموړي په کنفرانس کې د ټولو د ګډون سربېره، د ملګرو ملتونو او نړیوالو مرستندویه ادارو چې افغانانو ته د بشري مرستو او د معیشت پر برابرولو ټینګار کړی مننه او هرکلی وکړ او د ملګرو ملتونو څخه غوښته وکړه چې د افغانستان په اړه خپل مسئولیت په ادا کولو کې تاخیر ونکړي، د افغانانو ستونزې په اساسي توګه حل او د یوه ښه راتلونکي لپاره ګامونه پورته کړي.

هغه زیاته کړه، په افغانستان کې خصوصي سکتور خپل ځانګړی حیثیت لري که چیرې خصوصي سکتور پیاوړی شي نو تر ډېره حده به د افغانستان اقتصادي ستونزه حل شي. د هغه په وینا خصوصي سکتور په هېواد کې یو نیم میلیون کسانو ته کاري فرصتونه برابر کړي دي.

د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء مرستیال وویل، زموږ لید لوری په اوږد مهال کې د افغانستان خود کفایي ده او خود کفایي ته د رسېدو یوازینۍ لاره د خصوصي سکتور د ملاتړ او سیمه ییزې همکارۍ ترڅنګ، د کرنې، کانونو او ترانزیت په برخه کې پانګونه ده او اسلامي امارت ژمن دی چې پانګوالو ته د اړتیا وړ سهولتونه رامنځته او ډاډمن امنیت دوی ته تأمین کړي.

د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء مرستیال ټینګار وکړ چې، اسلامي امارت د لویو او سیمه ییزو پروژو لکه ټاپي، ټاپ، کاسا زر او ریل پټلۍ پروژو تطبیق ته ژمن او هر ډول همکارۍ ته چمتو دی.

هغه وویل، په نني عصر کې بانکونه د هېواد د ملا تیر حیثیت لري که چیرې په یو هېواد کې بانکي سیستم ړنګ شي نو د هغه هېواد اقتصادي سیستم ورسره له منځه ځي چې له امله یې د ناامني، مهاجرتونو او نورو مشکلاتو کچه لوړیږي. هغه له نړیوالو څخه وغوښتل چې د افغانستان بانکونو سره نغدي مرستې وکړي.

نوموړي زیاته کړه، د کنفرانس ګډونوالو د محدودیتونو په لرې کولو او د افغانستان د پیسو په ازادولو غوښتنه وکړه چې موږ یې هرکلی کوو. د شتمنیو د ازادولو ډیره ګټه خصوصي سکتور، بانکي سکتور او افغانانو ته رسیږي. هغه د ملګرو ملتونو څخه غوښتنه وکړه چې افغانستان ته انتقال شوي بشردوستانه فزیکي پیسې دې د تجارتي بانکونو له لارې توزیع شي.

نوموړي وویل چې، کرنه او کانونه د اسلامي امارت د لید لوري په لومړیتوبونو کې قرار لري. د هغه په وینا، افغانستان یو کرنیز هېواد دی او د کرنې لپاره مناسبه ځمکه او اوبه لري. نوموړي ټینګار وکړ چې اسلامي امارت د هېواد د کرنې سیستم د عصري کولو لپاره به د نورو هېوادونو سره تعامل وکړي.

همدارنګه د کورنیو او بهرنیو پانګوالو څخه غوښتنه وکړه چې د کانونو او برېښنا په سکتور کې پانګونه وکړي او ټینګار یې وکړ چې اسلامي امارت پانګوالو ته د ډاډمن امنیت د تأمین ترڅنګ د اړتیا وړ سهولتونه برابر کړي. نوموړي د چین هېواد څخه مننه وکړه چې د کرنې په سکتور کې پانګونې ته لیوالتیا ښودلې.

په پای کې یو ځل بیا ټینګار وکړ چې اسلامي امارت د اقتصادي ستونزو د حل لپاره به مناسب پروګرامونه او تګلارې په کار واچوي.

دا یو ورځینۍ کنفرانس په افغانستان کې شته اقتصادي ستونزو ته اساسي حل لارې موندلو، د نوي فرصتونو څخه د ګټورې استفادې، پایدونکی اقتصاد، په کورنیو سرچینو اتکاء او د هېواد د ځان بسیاینې په موخه ترسره شو. د کنفرانس ګډونوالو د محدودیتونو په لرې کولو، د افغانستان د پیسو په ازادولو، د اوسني نظام په رسمیت پېژندلو او افغانستان کې د نړیوالو په پانګونې ټینګار وکړ.#

**که په خپلو منځو کې لاسونه سره ورکړو کامیاب به یو، خو که پردیو خیراتونو ته مو لاس نیولی وي، بیا به ناکام یو.**

محترم ملا خیرالله خیرخوا، د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزیر

پاتې برخه...

## مرکز تحقیقاتی بانکداری اسلامی...

می‌شود و به عنوان بدیل آن؛ نظام اقتصادی افغانستان به اساس رهنمودهای دین اسلام بنیانگذاری می‌شود.

در مراسم افتتاحی؛ مفتی ابو سعید به عنوان مسئول این مرکز معرفی شد. مفتی ابو سعید در سخنان خود گفت: تلاش می‌نمائیم سیستم خوب بانکداری اسلامی را روی کار کنیم.

سپس محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا. در بیانیه‌اش گفت: به اساس فیصله کابینه؛ این مرکز به هدف از بین بردن نظام سودی (ربا) و به میان آوردن نظام اقتصاد اسلامی ایجاد شده است.

موصوف افزود: علما و متخصصین این مرکز وظیفه دارند اقتصاد کشور را از امور غیر اسلامی پاکسازی نموده و به مسیر درست سوق دهند. #

## د کورنیو چارو سرپرست وزیر د چین له سفیر سره وکتل

د کورنیو چارو سرپرست وزیر خلیفه سراج الدین حقاني د چین هېواد له سفیر وانگ یو سره وکتل.

ښاغلي یو په افغانستان کې د افغانانو د خوښې حکومت پر رامنځته کېدو د ټینگار سربېره، له اسلامي امارت څخه وغوښتل څو افغان خاوره د هېچا پر ضد ونه کارول شي.

سفیر وانگ یو په امریکا نیوکه وکړه چې غواړي په اقتصادي بندیزونو د خپلې ماتې غچ له افغانانو واخلي او زیاته یې کړه چې امریکا په افغانستان کې ټولشموله حکومت، د بشر حقونه، د مېرمنو حقونه او د بیان ازادي د پلمې په توگه کاروي؛ خو چین غواړي له افغانانو سره کار وکړي څو دوی په پښو ودرېږي

د کورنیو چارو سرپرست وزیر د چین هېواد د سفیر د هرکلي تر څنگ، د چین له بشري مرستو مننه وکړه او غوښتنه یې وکړه چې چین دې له افغانانو سره په دې حساسو شرایطو کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي.#

پاتې برخه...

## ډېر ژر به د تاپي پروژې اووه تړونونه...

د بهرنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، د تاپي پروژې د تطبیق لپاره شپاړس سندونه شتون لري، چې نهه یې د پخواني اداري له سقوط مخکې لاسلیک شوي دي. بین الحکومتي تړونونه، د گازو د پایپ لاین د جوړولو چوکاټ، د لوړ پوړو چارواکو تړون، د گازو پلور، عملیات، برخه اخیستونکي، مشورتي خدمتونه، پانگه اچونه او امنیتي تړونونه هغه سندونه دي چې افغانستان لا دمخه د تاپي پروژې له شریکانو سره لاسلیک کړي دي.

خو له کوربه هېواد سره د مخامخ ترانزیت، د گازو د انتقال، د تاپي د پایپ لاین د سیستم د مقرراتو، د ځمکې د استملاک د خدمتونو، د ځمکې د حقونو او څو اړخیزه تړونونه پاتې دي او اسلامي امارت تمه لري چې دا تړونونه د تاپي پروژې له شریکانو سره لاسلیک کړي.

ښاغلي شاهین وویل: «له ترکمنستان سره اووه نور تړونونه پاتې دي، چې کار یې په شدت سره روان دی، اووه نور تړونونه پای ته رسېدلي د تاپي پروژه ژر پیلېږي او افغانستان ته یې گټه ډېره ده.»

په همدې حال کې د مالیې وزارت وایي چې د نوي کال په بودیجه کې به د تاپي پروژې لپاره پیسې ځانگړې شي. د تاپي پروژه به د ۹ تر ۱۰ میلیارډ ډالرو پورې لگښت ولري او په پروژه کې ښکیلو اړخونو د دې لوی سیمه‌ییزې پروژې د جوړولو او مدیریت مسئولیت تاپي یا (TPCL) کمپنۍ ته سپارلی دی. #

بقیه...

## سازمان ملل: پنج میلیارد دالر برای کمک به...

از شرکای این سازمان اعلام کرده‌اند که برای کمک به حدود ۲۸ میلیون تن در افغانستان، به پنج میلیارد دالر نیاز است.

سازمان ملل متحد در هماهنگی با شماری از سازمان‌های غیردولتی، برنامه‌های پاسخ‌دهی مشترک را به هدف ارائه کمک‌های بشردوستانه حیاتی برای ۲۲ میلیون تن در افغانستان و حمایت از ۵.۷ میلیون تن از افغان‌های بی‌جاشده در پنج کشور همسایه، آغاز خواهد کرد.

بر اساس اعلام این سازمان، طرح یادشده در سال ۲۰۲۲ به پنج میلیارد دالر کمک جهانی نیاز دارد.

مارتین گریفیتس، معاون دبیر کل سازمان ملل متحد در امور بشردوستانه و هماهنگ‌کننده کمک‌های اضطراری این سازمان می‌گوید: ”دروازه را به روی مردم افغانستان بسته نکنید. همکاران بشردوستانه در ساحه حضور دارند و در حال ارائه خدمات هستند. با حمایت از برنامه‌های بشردوستانه، به ما کمک کنید تا فعالیت‌ها را بیشتر ساخته و از گرسنه‌گی گسترده، بیماری، سوءتغذیه و در نهایت از مرگ جلوگیری کنیم“.

از سویی هم، فلیپو گراندی، کمیشنر عالی سازمان ملل متحد برای پناهنده‌گان خاطرنشان کرده است که جامعه بین‌المللی باید برای جلوگیری از فاجعه در افغانستان هر کاری را که می‌تواند انجام دهد. او می‌افزاید که این موضوع نه‌تنها باعث افزایش رنج و بدبختی در افغانستان، بلکه سبب بی‌جاشدن بیش‌تر مردم در داخل کشور و آواره‌گی در سطح منطقه می‌شود.

با این حال، در اعلامیه سازمان ملل متحد تاکید شده است که برنامه پاسخ‌دهی بشردوستانه افغانستان به ۴.۴۴ میلیارد دالر نیاز دارد و این بزرگ‌ترین درخواست بشردوستانه است که تا کنون راه‌اندازی شده است.

این سازمان گفته است، اگر این هزینه تمویل شود، سازمان‌های امدادرسانی می‌توانند ارائه مواد غذایی حیاتی و کمک‌های زراعتی، خدمات صحی، درمان سوءتغذیه، ایجاد سرپناه‌های اضطراری، دست‌رسی به آب و ارائه تعلیم و تربیه اضطراری را افزایش دهند.

به همین ترتیب، هیأت معاونت سازمان ملل در افغانستان (یوناما) تاکید می‌ورزد که اگر کمک‌های مورد نیاز فراهم نشود، ده‌ها هزار کودک به علت سوءتغذیه در معرض خطر مرگ قرار می‌گیرند. #

پاتې برخه...

## د اقتصادي کمیسیون غونډه ...

پالیسیو تدوین، د افغان ټیلي کام او اترا ستونزو د حل، د بدخشان ولایت اړوند شورابک بند حقوقي او سیاسي اړخونو ارزونې، د لویو کانونو داوطلبۍ ته سپارلو څرنگوالي، د بگرامي ښارگوټي ستونزو د حل او نورو موضوعاتو په اړه چې د کابینې له لوري اقتصادي کمیسیون ته سپارل شوي وې، بحث وشو او د یادو مواردو په اړه لازم تصمیمونه ونیول شول.#

بقیه...

## دیدار رئیس الوزراء با عضو خاندان...

مناسبات نیک میان افغانستان و قطر را مورد ستایش قرار داد و گفت که در این وضعیت دشوار در کنار مردم افغانستان هستیم و همیشه به کمک و همکاری های خویش ادامه میدهیم.

شیخ عبدالله گفت: بخاطر کمک به افغان ها، یک نهاد خیریه را ایجاد کرده ایم و تلاش ما این است که کمک های بشری برای افغانها را بیشتر از این توسعه دهیم.

در مقابل، محترم ملا محمد حسن اخوند رئیس الوزراء امارت اسلامی افغانستان از همکاری و کمک های بیدریغ قطر به افغانستان قدردانی نموده، گفت: امارت اسلامی خواهان تداوم روابط دوستانه با قطر است و به عنوان برادران مسلمان با یکدیگر در حل مشکلات همکاری نماییم.

محترم رئیس الوزراء با اشاره به مذاکرات با قطر و ترکیه در خصوص میدان های هوایی بزرگ کشور، گفت که امارت اسلامی آمادگی کامل دارد تا پس از حل مشکلات تخنیکی، میدان های هوایی را برای فعالیت های تاجران به گونه کامل آماده نماید.#

**د ټولو خبریالانو او د صحافت په برخه کې د فعالینو دا مسؤلیت جوړېږي چې جامعې ته په ریښتوني ډول حقایق ورانديږي ترڅو یې له خبر اولیکنې نه کتونکي سالمه گټه پورته کړي دیپښو او حقایقو تحریف په رسنیزډگر کې ناسم کار دی چې هم د لیکونکي حیثیت زیان منولای شي او هم کتونکي له شک سره مخ کوي.**

محترم قاري محمد یوسف احمدي، د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

**مس عینک کان د پلازمېنې کابل په سویل لویدیز ۳۰ کیلو متره کې د لوگر ولایت په محمد آغه ولسوالۍ کې موقعیت لري. دغه کان په افغانستان کې لومړی او د نړۍ په کچه دویم ستر کان بلل کېږي چې په ټولیزه توگه ۱۱.۳ ټنه مس، ۷۷۰۰ متریک ټنه سپین زر، ۶۰۰ زره متریک ټنه کوبالت او په کمه کچه سره زر هم لري.**



پاتې برخه...

## په افغانستان کې د پانگونې ښه فرصتونه...

کې د یادې کمپنۍ د فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل وې ویل، د اسلامي امارت په حاکمیت سره د مس عینک پروژې امنیت تامین شوی او د اسلامي امارت رهبرۍ څخه یې دې پروژې ته د لا زیاتې پاملرنې غوښتنه وکړه.

د ریاست الوزراء مرستیال په افغانستان کې د MJAM کپمنۍ له پانگونې خوښي وښوده وې ویل، په افغانستان کې د پانگونې ښه فرصتونه برابر شوي، له پانگه والو ملاتړ کوو او ورسره به هر اړخیزې همکارۍ وشي.

محترم مولوي عبدالکبیر په افغانستان کې د MJAM کمپنۍ ځانگړي استازي ته ډاډ ورکړ چې د اسلامي امارت رهبري مس عینک کان ته ځانگړې توجه لري او په دې برخه کې هر ډول همکاریو ته چمتو دی. #

**سفیر چین از کارکرد های امارت اسلامی در قبال مبارزه با فساد، تصفیه صفوف و پرداخت معاشات کارمندان دولتی استقبال کرد و بر دوام همکاری کشور اش با ا.ا.ا. تاکید ورزید.**

پاتې برخه...

## د افغانستان بانک: ۳۲ میلیونه ډالر نغدي...

د اسعارو د راتگ او د ټولنې له اړمنو کسانو سره د مرستې لامل کیږي، ستاینه کوي او په دې برخه کې به خپل اغېزناک رول ترسره کوي.

د افغانستان بانک د معلوماتو له مخې د لیندۍ په میاشت کې ملگرو ملتونو دوه ځل ۱۶ میلیونه ډالر، دوه ځل ۱۹ میلیونه ډالر او یو ځل یې ۳۲ میلیونه ډالر نغدي مرسته له افغانستان سره کړې ده.

د افغانستان نړیوال بانک سرپرست اسدالله فیضي ویلي دي چې دغه نغدي مرستې د یوناما په ځانگړي حساب کې ساتل کیږي چې وروسته به یې دغه دفتر خپلو نورو دفترونو ته په نغدي ډول ورکوي. #

**د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت په ۲۰۲۱ زېږدیز کال کې د څه باندې ۴۷۱ میلیون افغانیو په لگښت، ۹۸ د اوبو رسولو شبکې، ۹۶ د اوبو ذخیرې او ۱۲۹ د څښاک اوبو څاگانې د هېواد په ۲۸ ولایتونو کې جوړې کړي چې له امله یې ۲۸۸ زره کاري ورځې رامنځته او ۲۹۶۳۸۱ کسان د څښاک اوبو څخه برخمن شوي دي.**

# ارګ پاڼه



د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

**صاحب امتیاز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز
**د اړیکي شمیره:** +93 (0) 202100633
**ایمیل:** info@gmic.gov.af
**آدرس:** مرمرینه ماڼۍ، بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان


## ملګرو ملتونو سرمنشي پر امریکا غږ کړی چې د افغانستان شتمنۍ ازادې کړي

د ملګرو ملتونو سرمنشي پر امریکا او نړیوال بانک غږ کړی چې د افغانستان کنګل شوې شتمنۍ ازادې او د پروژو تمویل پیل کړي.

انتونیو ګوټریس رسنیو ته وویل چې کنګلوونکی یخه هوا او کنګل شوې شتمنۍ د افغانستان لپاره وژونکی ترکیب دی او په وینا یې هغه شرایط او مقرارت چې په افغانستان کې د پیسو د استعمال مخه نیسي باید وځنډول شي.

ښاغلي ګوټریس وویل چې د افغانستان د مرکزي بانک فعالیت باید وساتل شي او د افغانستان د بهرنیو زیرمه شویو اسعارو مشروط پرېښودو لپاره دې یوه لاره په ګوته شي.

په افغانستان کې د اسلامي امارت د بیا واکمنېدو سره نړیوالې ټولنې او په ځانګړې ډول امریکا د افغانستان شتمنۍ کنګل، اقتصادي بندیزونو یې وضع او هغه اقتصادي مرستې چې پخوا یې د افغانستان له حکومت سره کولې وځنډولې.

ملګري ملتونه وایي چې ۸.۷ میلیونه افغانان له سختې قحطۍ سره مخ دي او د دغه سازمان د سرمنشي په وینا افغانستان اقتصاد ته د نقدینه ګي (نقدې پیسې) تزریق کېدل ډېر اړین دي څو د داسې انحطاط مخه ونیول شي چې د میلیونونو لپاره د فقر، لوږې او بې وزلۍ سبب کیږي.

نوموړي همدارنګه، د افغانستان د اقتصاد د بشپړ سقوط مخه نیولو باندې ټینګار وکړ.

ملګرو ملتونو سرمنشي وویل چې امریکا باید تر ټولو مهم رول ولوبوي ځکه په ټوله نړۍ کې اقتصادي سیستم په ډالرو روان دی او امریکا د افغانستان ۷ میلیارده د افغانستان اسعاري زیرمې چې په امریکا کې موجودې دي کنګل کړي دي. #

بقیه...

## تخصیص ۳۰۸ میلیون دالر کمک بشری...

هورن گفته است که با بسته‌ی کمکی تازه، مقدار کمک‌های امریکا به افغانستان پس از ماه اکتبر سال گذشته میلادی به ۷۸۲ میلیون دالر می‌رسد. او گفته است که امریکا همچنین بزرگترین اهداکننده‌ی کمک‌های بشردوستانه به افغانستان است.

سخن‌گوی شورای امنیت ملی امریکا همچنین اعلام کرده است که ایالات متحده یک میلیون دوز اضافی واکسن کووید۱۹- را از طریق COVAX به مردم افغانستان ارائه می‌کند. #

پاتې برخه...

## عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ مولوی هبة الله اخوندزاده د فراه، هرات او هلمند ولایتونو...

همدارنګه، د یادو ولایتونو مسئولینو ته لارښوونه وکړه چې د حکومتوالۍ د بهبود او مراجعینو ته د ښه خدمتونو پر وړاندې کولو کې له هیڅ راز هڅو څخه ډډه ونکړي.

همداراز، عالیقدر امیرالمؤمنین، فراه، هرات او هلمند ولایتونو یې تاریخي او له ارزښته ډګ ولایتونو یاد کړل او ټینګار یې وکړ چې د یادو ولایتونو عمومي وضعیت ته به جدي پاملرنه کیږي.

د ا.ا.ا. زعیم امیر المؤمنین شیخ مولوی هبة الله اخوندزاده د سفرونو په لړ کې د هلمند ولایت د موسی کلا ولسوالۍ د مسلماني سیمي د فدایانو مشهوري هدیرې ته ولاړ او هلته یې د شهیدانو پاکو ارواحو ته دعاء وکړه او هغوی یې د ازادۍ د لاري سپېڅلي شهیدان یاد کړل. #

پاتې برخه...

## د اسلامي امارت د کابینې غونډه...

د دعوت او ارشاد ریاستونو تشکیل منظور او همدې ریاستونو ته د تیار شوي نصاب د کتنې لپاره د علومو اکاډمۍ د لوی رئیس په مشرۍ هیئت وټاکل شو.

همداراز، د خرڅلاو لپاره داوطلبۍ ته د (CNG) ګاز وړاندې کولو په اړه د معادن او پیټرولیم وزارت غوښتنه تصویب او اقتصادي کمیسیون ته دنده وسپارل شوه ترڅو د بهرنیو شرکتونو لخوا د پانګونې د قراردادونو څرنګوالی او شرایط وڅیړي او خپل نظر دې د کابینې مجلس ته وړاندې کړي.

کابینې له اوزبیکستان-مزار شریف او پېښور ته د خط آهن د پروژې د مسیر او ځمکنۍ سروې په اړه بحث او پریکړه وکړه، ترڅو په نږدې راتلونکي کې د یادې پروژې عملي چارې پیل شي.

همدارنګه، کابینې د کورنیو چارو وزارت لخوا د پولیسو لپاره انتخاب شوی یونیفورم له معمولي تغییر سره تصویب کړ. دغه راز، د محترم مولوي عبدالسلام حنفي په مشرۍ هیئت ته دنده وسپارل شوه ترڅو پر دولتي ادارو د برېښنا شرکت، افغان پُست، افغان ټیلکام او نورو شرکتونو د قرضو موضوع وڅیړي او د حل لاره دې د کابینې مجلس ته وړاندې کړي.

د کابینې په غونډه کې په نورو اقتصادي او اجتماعي مسائلو هم بحث او پریکړې وشوې. غونډه په دعاء سره پای ته ورسېده. #

زبان را نگه دار به عیب کسان
که خود عیب داری و مردم زبان

فردوسی

## کار عملی پروژه های زیربنایی و اقتصادی افغانستان-ترکمنستان عنقریب آغاز می گردد

به رهبری محترم مولوی امیرخان متقی، هیأت عالی‌رتبه‌ای ا.ا.ا. با معاون نخست وزیر، وزیر خارجه و سایر مسئولین بلند پایهٔ کشور ترکمنستان ملاقات نمود.

درین نشست پیرامون تقویت هرچه بیشتر روابط دوجانبهٔ سیاسی، دیپلوماتیک و اقتصادی، همکاری‌های امنیتی، آغاز زود پروژه‌های تاپی و تاپ، رشد تجارت و فعالیت سکتور خصوصی، افزایش صادرات سنگ مرمر، میوهٔ تازه و خشک، تکمیل پروژه‌های خط آهن در آقینه و تورغندی و سرمایه‌گذاری روی برق بادی بحث‌های سازنده صورت گرفت.

در این نشست هر دو جانب توافق کردند تا از افغانستان به‌عنوان مسیر ترانزیت میان آسیای مرکزی و جنوبی استفاده شود و گاز مایع، مواد معدنی و خوراکه و سایر اموال تجاری از همین مسیر انتقال یابد. دو طرف همچنان توافق کردند که نشست تیم تخنیکی هر دو کشور در ماه جنوری در کابل برگزار شود و کار برق، پروژهٔ تاپی و تمدید راه‌آهن در ماه مارچ سال جاری افتتاح و عملاً آغاز شود.

برعلاوه، توافق صورت گرفت تا کشور ترکمنستان برای محصلین افغان در بخش های نفت و گاز، خط آهن و سایر بخش های تخنیکی، بورسیه‌های تحصیلی اعطا کند.#

**موږ د ملګرو ملتونو د سرمنشي لخوا د امریکا څخه د افغانستان د سرمایې د خلاصون غوښتنه ستایو، داسې دریځ نیول د ملګرو ملتونو بې پریتوب او د ملتونو د حقوقو په اړه د دغه مهم جهاني سازمان پر ستیژ ته ګټه رسوي، امریکا باید په دې اړه نړیوال غږ ته مثبت ځواب ووایي او د افغانستان سرمایه را پرېږدي.**

محترم ذبیح الله مجاهد، د اطلاعاتو او کلتور وزارت مرستیال او د ا.ا.ا. ویندوی

**زموږ کوښښ دا دی چې د سیمې او خصوصا له ګاونډیو هېوادونو سره ښې اړیکې ولرو.**

محترم مولوي امیر خان متقي، د ا.ا.ا. د بهرنیو چارو سرپرست وزیر

**انتونی بلینکن، وزیر امور خارجه امریکا، در دیدار اش با مارتین گریفیتس، معاون سرمنشی عمومی سازمان ملل گفته که امریکا متعهد به حمایت از مردم افغانستان است. این درحالی است که اخیراً انتونیو گوترش، سرمنشی عمومی سازمان ملل متحد، از پیامدهای ناگوار منجمد ماندن ذخایر ارزی افغانستان هشدار داده بود.**

**کندهار او هلمند ولایتونو ته د کجکي بند د برېښنا لېږد لپاره الکترونیکي تجهیزات په عاجل ډول ژر تر ژره وپېرل شي.**

د اقتصادي کمیسیون پرېکړه

## د دې ګڼې انځور



### قلعه اختیارالدین:

دژ اختیارالدین نخستین دژ شهر هرات است که برای نخستین بار به راهنمایی شمیره دختر فریدون به منظور رهایی از باجگیری دشمن آباد شد.

این بناء تاریخی در سال ۳۳۰ قبل از میلاد توسط اسکندر مقدونی ویران و سپس به فرمان خود او از نو ساخته شد. هدف از ساختن این دژ، حفظ نظامیان از شورش احتمالی مردم شهر در برابر سلطهٔ مقدونی ها بود.

این دژ دوباره در اثر هجوم چنگیز ویران و سپس در عصر فخرالدین در سال های ٦٨٧ الی ٧٠٦ توسط وزیر اش اختیار الدین آباد و بنام قلعه اختیارالدین مسمی گردید.

در سال ۸۱۰ دوره شاهرخ فرزند تمیور لنگ که پایتخت خراسان را از سمرقند به هرات انتقال داد، علاوه بر ترمیم ویرانی های گذشته به استوار سازی و آراستن این قلعه نیز پرداخته شد.

قلعه اختیارالدین به دلیل مرکزیت حکومتی و نظامی همیشه مورد تخریب و صدمات نیرو های حکومت های وقت قرار داشته است است.

این بنای عظیم هم اکنون در وسط شهر هرات موجود است و در پایان دورهٔ سردار محمد داود خان احیاء و بازسازی گردید. برج و بارو های بزرگ این قلعه تاریخی از دور دست ها قبل دید می باشد.